**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲/۰۹/۱۲

# د علم په وزرونو

څوک په قطرې کې، د خلـــقت لـوی دریابونه ویني
څـوک په خپل پوهـه، په ذرې کې جـــهانونه ویني

څوک دي سپیرو خـاورو ته تل، په تغافل کړي نظر
خـــاوند د عــــــقل په کې واړه، اندامـــونه ویني

ځکه تیر شوي په دي خاورو دي ،مغرور تاجداران
چې دعـــبرت خاوند په کې ، ښــکلي مخونه ویني

د عبرت بین نظر له پاره، د عـــبرت نـــښې دي
خـاوند د حـــال د لته په رون نظر، حـــالونه ویني

په دي چـمن کې ، د عـــــبرت او انتباه خاوندان
په هره پانه کې اســـرار، او حکـــــمتونه ویني

چا ســره نه وي ، د راتلونکي ، او ســـبا هم اتکل
څـــوک آئیني د تـــجربـــو کې، واتـــنونه ویني

دردمن د خــــپلي پیرزویـــــــــني،لوریني په لید
په هر قـــــدم کې دي وطن ته، بـــهارونه ویني

یوه دله ځـــــان نه ، ناخــــــبره قدرت په نیلي
په آئیني د تکبر کې ، خــــپل ځـــــانونه ویني

هغوي مدار د انســـانیت ته ، له تحــــقیقه رسي
چې خود سازی په سـخته لار کې زحمــتونه ویني


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د تلسکوپ په ســــترګوتل ، د علم و فن خـــاوندان
په سلسلې کې د تحـــــــــقیق، کهکــشانونه ویني

منم چې یو ورځ به مو، وطن کې ستر بدلون راشي
ځکه د زړه ســـترګي می تل دا پیـــــغامونه ویني

که مو انجونې او بچیان ، په ښـــه تعلیم شي سمبال
نو په رڼا د معـــرفت به مــــــو، دردونه ویني


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ